# زهرجن ځنګلي مرخیړي



- خطرناک ځنګلي مرخیړي معمولاً د مني د لومړیو ښو بارانونو څخه وروسته څرګندیږي.
- دوی په ډیری ځایونو کې موندل کیږي ، د بیابانونو، ځنګلونو، عامه پارکونو، د لوبو ډګرونو، د ښوونځي د ساحو، د مال څرولو د ساحو او کور ته نږدې ستاسو د خپل کور د باغونو، زراعتي ښورو، ښورو یا وښو په ګډون.
- کله چې تاسو بهر یاست نو د خپلو ماشومانو او ځارویو له نږدې څخه څارنه کوئ ځکه چې مرخیړیو ته لاسرسی آسانه او د خوړلو لپاره په زړه پوري ښکاري.
- هغه خلک چې په بهر کې ژوند کوي باید خبر وي چې په آسټرالیا کې زهرجن مرخیړي په نورو هیوادونو کې د خوراک وړ مرخیړیو ته ورته ښکاري.
- د مرګ خولۍ مرخیړې خورا خطرناک دي او کولی شي د ځګر وژونکي زیان لامل شي. پخول یا پوستول یې زهر نه لرې کوي.
  د مرګ خولۍ د بلوط، هزیل او شاه بلوط (چسټ نټ) ونو سره وده کوي، مګر وژونکي مرخیړي هرچیرې وده کولی شي. یوازینی مرخیړي چې د خوړلو لپاره خوندي دي هغه دي چې تاسو یې د باور وړ زرغون پلورونځی یا سوپر مارکیټ څخه اخلئ.
- که چیرې یو څوک په ناڅاپي ډول یو ځنګلی مرخیړي وخوري، نو انتظار مه کوئ چې نښې نښانې پیل شي د **زهرو معلوماتو مرکز ته په ۱۳۱۱۲۶ شمېره زنګ ووهئ او د هغوی مشورې تعقیب کړئ.**

  هرڅوک چې د ځنګلی مرخیړیو خوړلو وروسته ناروغه شي باید عاجله طبي پاملرنه وغواړي.

  **په بیړني حالت کې، تل درې ځله صفر (۰۰۰) ته زنګ ووهئ.**

## د ځنګلی مرخیړیو د مسمومیت نښې نښانې عبارت دي له :

- **د معدې سخت دردونه**
- **د ګیډې درد**
- **کانګې کول**
- **زړه بدوالی**
- **اسهال**

نښې نښانې معمولا د مرخیړیو له خوړلو ۳ - ۶ ساعته وروسته پیل کیږي او تر ۳ ورځو پورې دوام کولای شي.

**خورا خطرناک مرخیړي کیدای شي ځنډنۍ نښې ولري چې د خوړلو وروسته تر ۲۴ ساعتونو پورې پیل کیدای شي .**

**www.sahealth.sa.gov.au/mushroompoisoning**



